مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۰/۲۱

# ډنمارکی اِتنوګراف،

## کلاوس ویلهیلم فردیناند

## Klaus vilhelm Ferdinand

## Dansk etnograf

### لومړی برخه



د ډنمارکی اِتنوګراف، کلاوس ویلهیلم فردیناند په باب خبري کول او څه لیکل د دي له پاره اړین دي چي يو خو يي د افغانستان د خلکو، د افغانستان د دود دستور او کوچیانو د ژوند د څرنګوالي په باب ډیر کار کړی دی او بل دا چي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د همدې ډنمارکي کلاوس فردیناند هڅې، مرسته او تشویق و چې د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې د داستاني ادبیاتو د پاچاګي، سعد الدین شپون، د ژوند لوری یې وربدل کړ.
شپون له کلاوس سره په افغانستان کې دننه اوږده موده د ژباړونکي او همکار په ډول کار کړی دی. کلاوس وکولای شول چې شپون د ژوند په داسې پړاو کې له ستونزو وژغوري، چې هغه د ژوند د پرابلمونو سیلاو پسې اخیستی و.

(شپون سعدالدین، و، نه و، یو شپون و، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۲۱۰ ـ ۲۱۱ ـ ۲۱۲ مخونه)

کلاوس هغه څوک و چې د شپون لاس یې ونیو، د بې سرنوشتۍ له ستونزو نه راویسته او د ډنمارک تر کوپنهاګن پوهنتون پورې یې را ورساوه چې بیا شپون د ډنمارک له امکاناتو نه په استفادې سره وکولای شول له خپلې کورنۍ سره امریکا ته کډه شي؛ نو د کلاوس د دې خدمتونو په پار لومړی باید ټول افغانان، بیا ټول پښتانه او په ځانګړي ډول د شپون صاحب کورنۍ له ډنمارکي کلاوس فردیناند څخه مننږوی اوسي چې زموږ د ادبیاتو دا ستره هستي یې تر ډنمارکه پورې راورسوله او بیا شپون له ډنمارک څخه امریکا ته ولاړ او هلته یې بیا وکولای شول چې د پښتو ادبیاتو په تخلیقي او داستاني برخه کې داسې آثار وپنځوي چې پښتو او پښتانه به یې هیڅکله هیر نه کړي.

## لومړی ډنمارکي کوچي پېژندونکی او اِتنوګراف، کلاوس ویلهیلم فردیناند:

ډنمارکي اِتنوګراف، کلاوس ویلهیلم فردیناند، د ۱۹۲۶ کال د اپریل په نولسمه (۱۹مه) نیټه، د ډنمارک د شیلند جزیرې په «هیه لوفس هولم» (Herlufsholm) نومي ځای کې زیږیدلی او د ۲۰۰۵ کال د جنوري په پنځمه (۵ مه) د ۷۸ کلونو په عمر مړ او د ډنمارک په آغوس نومي ښار کې خاورو ته سپارل شوی دی.



Frederikskirkens Kirkegård, Højbjerg, Aarhus 2016
© www.gravsted.dk (foto:hes)

کلاوس فردیناند په ۱۹۴۴ ام کال لیسه پای ته ورسوله او له هغه وروسته یې د کوپنهاګن په پوهنتون کې د اِتنوګرافی (etnografi) په څانګه کې خپلې زدکړې پیل کړې او په ۱۹۵۲ ام کال کې د خپل لارښود استاد، مشهو اِتنوګراف «کای بیرکت شمیت – Kaj Birket-Schmidt» تر نظر لاندې پای ته ورسولې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کلاوس چې څنګه له پوهنتوني زدکړو خلاص شو، په نشنل موزیم کې یې د اِتنوګرافۍ په برخه کې کار پیل کړ او دا کار یې تر ۱۹۵۷ م کال پورې وغځاوه.
کله چې په ۱۹۶۰ کال کې د اِتنوګرافۍ مسلک ډېر د پام وړ شو، په دې وخت کې په همدې څانګه کې کلاوس تر ټولو نوښتګر او مخکښ و. ده خپل شاګردان او نور خلک په دې برخه کې د کار له پاره وهڅول او په دې ډول یې د خپلو لاسته راوړنو لمن پراخه کړه او دا کار یې چې له شپیتمې لسیزې پیل کړی و، تر اویایمې او اتیایمې لسیزې پورې په جدیت سره وغځاوه او پراختیا یې ورکړه.

کلاوس د لومړي ځل له پاره خپل کار په ۱۹۵۸ م کال کې، د موزیم د مشر په توګه، د اِتنوګرافي د روښانه راتلونکې په تمه پیل کړ. کلاوس د اِتنوګرافي د علم تدریس له ۱۹۶۰ کال نه پیل کړ او اویایمه او اتیایمه لسیزو کې پسې وغځاوه.

د ډنمارک په آغوس پوهنتون کې د اِتنوګرافۍ د مسلک بنسټ اېنوډونکی ډنمارکی کلاوس فردیناند دی چې د کارونو ټولګې او بیلګې یې د ډنمارک په «موسه ګارد موزیم ـ Moesgaard Museum» کې خوندي دي.

کلاوس د خپل ځانګړي استعداد او ځواک له مخې دا نوښت وکړ چې د ډنمارک په «موسه ګارد موزیم ـ Moesgaard Museum» کې د بیلابیلو ټولنو د کلتور بیلګې راټولې کړي او د خپلې ځانګړې مینې له مخې یې په ځانګړو نندارتونونو کې د خلکو د ننداري له پاره وړاندې کړې، چې د نورو ټولنو تر څنګه یې د افغانستان د پښتنو کوچیانو کلتور هم نه و هیر کړی. افغانستان ته یې پرلپسې شفرونهکول او په بیلابیلو ړلایتونو ګرځیده.



کلاوس د افغانستان په نورستان کې د خپل لومړني ماموریت په اوږدو کې

د کلاوس بل نوښت دا و چې غوښتل یې د خپلو علمي څېړنو او لاسته راوړنو ټولګه د ډنمارک په ښوونځیو کې د درسي پروګرام له لارې زده کوونکو ته هم وړاندې کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کلاوس په خپل هر سفر کې د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د پښتنو کوچیانو مېنو ته ورغلی دی، له نږدې یې د هغوی د دود او دستور ننداره کړې ده او د کوچیانو په مېنو کې ورسره ناست دی، هر څه یې لیدلي دي او بیا یې ثبت کړي دي؛ نو ځکه د کوچیانو په باب د ده ټول مالومات د اعتبار وړ ګڼل کیږي.



کلاوس له پښتنو کوچیانو سره د خبرو په حال کې ۱۹۶۰ کال

کلاوس د افغانستان د پښتنو کوچیانو، کوچیتوب، دود و دستور په باب ګڼې علمي مقالې لیکلې دي.

د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ